د افغانستان اسلامي امارت
د کندهـــــار ولایت
د ښاروالي ریاست
د عوایدو ، محاسبي او اداری چارو ریاست
د تهیه او تدارکـــاتو عمومي مدیریت

## د ۱۴۰۱ مالي کال لپاره د مختلف النوع وسایطو د روغنیاتو او فلټرانو شرطپاڼه!

---

۱: دواطلب شرکت باید د رسمي جوازونه د ښاروالی او ایسا درلودونکي وي.
۲: تضمین د اصولو مطابق د ښاروالی په امانت حساب کښی تحویلیږی که چیری هر شرکت برنده سو اصولاً به د قرارداد تر ختمه پوری تحویل سوی تضمین ساتل کیږی.
۳: ټول هغه روغنیات او فلټران د ترتیب سوي تخنیکي جدول پر اساس درته ښودل کیږي عملاً به د شرکت مسؤلینو لخوا د ترانسپورت مدیریت مربوط د تخنیکي کمېټي په حضور کښي ورته اماده کیږي .
۴: ټول فلټران او روغنیات باید د مناسب قیمت او د ښه کیفیت درلودونکي وي. مبلین باید د خارجی پیژندل سوی کمپنۍ څخه وي او په کندهار ښار کښی مروجه وی او د ترانسپورټ مدیریت مربوط د وسایطو لپاره ښه نتیجه درلودونکې مبلین وي.
۵ : دا قرارداد به د شرکت او کندهار ښاروالي تر منځ د ۱۴۰۱ مالی کال لپاره د اصولو له مخې عقد کیږي.
۶ : د کندهار ښاروالۍ د ترانسپورت مدیریت مربوط د فورم (م۷) پر اساس تر تسلیمی څخه وروسته به بعداًد عقد سوی قرارداد مطابق به هغه روغنیاتو او فلټران چه په ربع کښی په کاریږی اولاً د هیئت معاینه په توسط د ذکر سوی فورم د ترتیب او امضاء څخه وروسته د تخنیکی کمیټی تائید پر اساس د هری ربع د حساباتو تصفیه به صورت مومی. بعداً به د پورتنی فورم او جدول له مخی و قراردادی ته د ربع مبلغ تادئیه کیږی.
۷: د عقد سوي قرارداد د دولت ټول مالیات د شرکت د مسؤلینو پر غاړه دي.
۸ : د ګټوونکي شرکت د مسؤلینو ګرځنده ټلیفون باید فعال وي.
۹: که ګټوونکي شرکت د شرطپاڼي د هري مادې څخه سر غړ ونه وکړي د کندهار ښاروالۍ د لزوم دید په اساس یاد شرکت بیا د ښاروالی په پروژو کی د ګډون څخه محروم کیږي او تضمین ئی په رسیدلی خساره کی استفاده کیږي.
۱۰: د کندهار ښاروالی د ترانسپورټ مدیریت اړوند د ټولو وسایطو لپاره روغنیاتو ته ضرورت لري چه په ترتیب سوو جدولونو کښې یی د مبلینو او فلټراو د ضرورت غوښتنه کړیده چه د قراداد د عقد کولو څخه وروسته به د ګټونکی قراردادي له خوا پر وخت او زمان ورته اماده کیږی.
پورته شرطپاڼه د (۱۰) لسو مادو په چوکاټ کي ترتیب او صحت لري.

| | | |
|---|---|---|
| د تهیه او تدارکات عمومی مدیریت | د عوایدو ، محاسبی او اداری چارو ریاست | حاجی نعمت الله<br>کندهارښاروال |

---


آدرس: ارګ بازار ۴ ناحیه ، کندهار ښار
داړیکی شمیره: ۰۳۰۲۰۰۴۰۰۱
بریښنا لیک : KDR.Municipality. @gmail.com
ویب پاڼه : www.Kandahar-m.gov.af

Address: Arg Bazaar, 4th District, Kandahar City
Phone #: 0302004001
E-mail Add: KDR.Municipality. @gmail.com
Website: www.Kandahar-m.gov.af